هغه يوه ورځ هم داسې ندي ويلي چې اې زما ربه! ماته د قيامت په ورځ زما ګناهونه وبخښه

له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دی چې وايې: «ما وويل: اې د الله رسوله، ابن جدعان به په جاهليت کې خپلوي (صله رحمي) پاللـه او مسکينانو ته به يې ډوډۍ ورکوله، نو آيا دا - کارونه - ورته ګټه رسوي؟ هغه وفرمايل: « ګټه ورته نه رسوي، هغه يوه ورځ هم داسې ندي ويلي چې اې زما ربه! ماته د قيامت په ورځ زما ګناهونه وبخښه».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د عبدالله بن جدعان په اړه چې له اسلام څخه مخکې د قريشو له مشرانو څخه و، وفرمايل: د هغه له نيکو اعمالو څخه دا دي چې خپلوانو سره خپلولي پالي، له هغوی سره نيکي کوي، مسکينانو ته خواړه ورکوي او داسې نور نيک کارونه کوي چې اسلام يې په تر سره کولو ټينګار کړی دی، نو په الله تعالی باندې د هغه د کفر له امله ورته دا کارونه په آخرت کې هيڅ ګټه نه رسوي، ځکه هغه يوه ورځ هم ندي ويلي چې: ربه، د قيامت په ورځ زما ګناه راوبخښه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65009